شگوفه عطر افشاني کند وقت سحرگاهان
که از بویش به هر جا بیقراري در قرار امد
شگوفه چتر زیبایش بلند کرده به هر جاي
براي دیدنش بلبل هزاران در هزار امد
تمام بلبلان خوش خط و خالش ببین امروز
کند هر دم خوشي با یکدیگر در گلعذار امد
رسید عطر گل و بوي صنوبر در مشام ما
که بوي ارغوان زارش ز هر کنج و کنار امد
زمرد فرش راه گردید بر هر جاي تماشا کن
که بهر مقدم گل سبزه اندر لاله زار امد
سحاب رحمتي بارید بر هر کوه و بیابانش
تو سیلاب خروشان را ببین کز کوهسار امد
یکي طفلي نهال بر دست، جوان عرس زمینش کز
ببین همت ز پیران وطن امروز بکار امد
نگر همت ز دهقانش که عمر خود درین مزرع
کمان کردن چو نخل قد امید روزگار امد
به وصف نو بهار هر چند بگویم کم بود اي «دل»
که وصف اش کي شود پنهان ببیند اشکار امد

غلام رسول «راسخ»

دا نوي کال مې د سکون ښکاري
د زخمي زړونو د رغون ښکاري
هستي مې هیلي ارزوګاني پکي
د خوشحالیو خور ژوندون ښکاري
خیر که اوس لر او ډېر کمې لري دا
شي به پوره دا ښکاره بدلون ښکاري
خوك چې په بد نظر کاته کاوږته
د هغوي سترګې په د نون ښکاري
میني راونغاړي اباد کړي وطن
حالات شول سه راته سمون ښکاري
د قرباني سنجه راغله به لاس
د ازادي بې مو رغون ښکاري
د سرو ګلانو په هنداره که اوس
د هر شهید تصویر مضمون ښکاري
به هره پانه د ملت کیسې ورووره
اوس د «راسخ» شعر، مضمون ښکاري

بهار

میر محمد حیدر «سعیدي»

مرد دهقان رابگو اي مرد کار
سر کشیده سبزه ها در کوه و دشت
بوغ و اسقارت ز خانه کن برون
درس دهقاني به اولادت بده
کارکن از زحمت روزي بخور
گر نکاري غله کي حاصل بري
جو اگر کاري تو گندم ندروي
قدرت صانع ببنچون رانگر !
آهوان در کوه و صحرا مي چرند
بلبلان در شاخساران بلند
هر طرف در شاخه، پر میزنند
نیمه شب طفلي همي نالید زار
دور کن از ما خدایا بغض و کین !
یارب از الطاف بي پایان خود

نیست فیضي بهتر از فیض بهار
تو هم از بالین خوابت سر بر آر
دست بر زن از براي کشت و کار
چون که هستي درفن اموزگار
در جهان داري تو دائم اعتبار
تخم نیکي در زمین خود بکار!
این مثل باشد ز مردم یادگار
کي تواني رنگ گلها را شمار
چونکه سر سبز است کوه مرغزار
نغمه پرداز صفات کردگار
میکنند وصف هواي خوشگوار
سال نو را به کني از سال پار
بهر ما باران رحمت را ببار !
آرزوي طفل این میهن بر آر!

کن «سعیدي» شکر یزدان را بجا!
تاشود نعمت فزون در نو بهار

د شریعت اوونیزې مشاعره د پوهانو ...

او هنري پیاوړتیا کې به ډېر مهم رول ولوبوي.

بواځې یو نظر لرم هغه دا چې د مشاعرې د جریان د لاسه والي په خاطر که مشاعرې په وخت کې د شاعرانو د تشویق لپاره څه تدابیر ونیول شي نو دوې ګټې به ولري یو دا چې شاعر په تشویق شي او بل د مشاعرې جریان به ښه او په زړه پوري شي. والسلام

غني «هاشمي»

د مشاعرې په اړه

۱ - په راتلونکي کې دې : له شاعرانو څخه هیله وشي چې له مقدمې او زیاتو خبرو تیر او د خپل اصل شعر په لوستلو پیل وکړي.

۲ - هغه شعرونه چې د اسلامي او ځینو اخلاقي اصولو خلاف نه وي باید له فکري سانسور څخه خوندي پاتې شي.

۳ - د شعر د فکري خوا تر څنګ د هغو شعرونو غوره کول پکار دي چې هنري ارزښت یې هم اوچت وي.

٤ - د مشاعرې په ترڅ کې د ښو شعرونو د ستاینې د لارو چارو لټون هم پکار دي ۵ چې راتلونکي کې که مشاعري کیږي نو داوس په څیر.

د مشاعرې ځاي ښکلا او د نورو تخنیکي چارو سمه سمبالښت ته هم پاملرنه په کار ده.

٦ - د مشاعرې د پر مخ وړلو او مشرتابه لپاره د داسې شخص او یا اشخاصو ټاکل په کاردي چې د شعر، شاعرۍ ادبي چارو او د مشاعرې له چارو سره پوره بلد وي.

٧ - څرنګه چې تر اوسه پورې پښتو مشاعرو کې د کلونو په ترڅ کې دا دود راغلي چې اوریدونکي د ښه شعر اوریدلو په ترڅ کې خپل احساسات او ولولې د چکچکو پواسطه څرګندوي نو که چیرې چکچکې په مذهب او دین کې د زغم وړ وي، په مشاعره کې اجازه ورکړاي شي، د مشاعرې د لا ګرمښت سبب به شي.

۸ - هغه شعرونه چې د مشاعرې په ترڅ کې اورول کیږي، که د هغو سره او غوره شعرونه د چاپ لپاره انتخاب شي، نه به وي او هغه «شعرونه» چې بواځې په اوریدلو ارزي، باید له چاپ څخه لرې شي. که د امکاناتو په شتوالي کې د مشاعرې ځانګړې کتابګوټې چاپ شي نو له بوې مشاعرې څخه نظر بلې ته به زموږ د شعري بهیر پر مخنګ وشي.

اېړون

لیکوالان او شاعران ډېر تشویق شول

دنیا ته معلومه شوه چې د طالبانو تحریک په فرهنګ او ادب پاندې کومه پابندي نده لګولې.

۲ - ادیبان په دې وپوهېدل چې حقایق په ډاګه ویلی شي.

تر دې وروسته به که خدای (ج) کول لیکوالان زیات تشویق شي.

۳ - د مختلفو ولایتونو خلکو یو د بل سره ازادانه وکتل.

یوه توصیه مې داده چې محترم شاعران نبوي سنتونه په احترام باید پټوکي په سر کړي چې په دې غونډه کې د ځینو وروڼو په سر نه وو.

شاه محمود توحیدي

دا مشاعره له هر اړخه نمونه ګڼلې شو

د شریعت اوونیزې مشاعره له ډېرو اړخونو نه ښه وه او له هره اړخه یې نمونه ګڼلې شو. په نظري او ذهني حالت کې باید ووایو چې نظراً ځکه ښه وه چې ټول ورونه په یوه متحده ایدیالوژۍ کې او په یو پراخ چوکاټ کې سره را ټول و همدا راز له ذهني نظره ډېر ښه ذهني مسایل د اکثریت او اقلیت له نظره د توزان مشکل حل و. که د مشاعرې یا ادبي ناستې په اړه دایماً یوه ټاکلی او د لیکوالو تر منځ مخور سړي ته وخت ورکړل شي چې ادبي ماهيت د موضوع په شاعرانه انداز وغږیږي رڼا پرې واچوي نه به وي. بل مشاعره باید په یو ادبي اړخ استواره نه وي بلکه د ادب له هري ساحې څخه دې نمایندګي وکړي مثلاً د پښتو ادب له دري لویو سبکونو څخه سترګې نشو پټولی دا مسایل باید متوازن وي که یو شعر په صوفیانه انداز کې وي نو بل شعر دې د رزمي اړخ د بدیعي صنعتونو له مخې نمایندګي وکړي په هر حال ننۍ مشاعره بیا هم ډېره پراخ ښکېږه وه.

منقاد الرحمن رودوال

د هر قوم او هر نژاد وګړو په کې ګډون کړی و

د شریعت اوونیزې چه د خپل څه دپاسه یو کال په زړه پوري صحافت او ډاډمنو معلوماتو سره سره په کابل کې د نوي کال په شروع یعنې د وري د میاشتې په لومړۍ نیټه کومه مشاعره ترتیب کړې وه خو را په زړه پوري، او له وخت سره برابره وه که له یوې خوا په مشاعره کې له بېلا بېلو سیمو څخه شاعرانو ګډون کړی و نو له بلې خوا د شاعرانو روحیات هم خورا قوي او هڅوونکي و.

په دې مشاعره کې چه کوم شي په خصوصي ډول زه متوجه کړم هغه د شاعرانو د شعرونو هغه انګازه وه چه د هغوي له شعرونو څخه دا برېښیدله چه نور نو غمونه ختم شوي دي او نور موږ باید د خپل وران ویجاړ هېواد د بیا رغاونې په کار پیل وکړو. دوهمه په زړه پوري خبره چه ددې مشاعرې له راغونډولو څخه څرګندېدله هغه د هېواد د نامتو فرهنګ پالو ګډون او د هېواد له ګوټ ګوټ څخه د هغوي راتګ و ځکه چه موږ ولیدل چه په نوموړې مشاعره کې له کابله، لوګر، او میدان څخه پرته د پروان، غزني، پکتیا او د ننګرهار او لغمان هغه ګڼ شمیر شاعران وو چه په دې مشاعره کې ئې خپل پر معنی او پر محتوا شعرونه واورول.

دریمه خبره چه د خوشحالۍ باعث وګرزیدله هغه د هېواد دښمنانو د پوچو تبلیغاتو بر عکس زموږ د هېواد ټولو ورڼو ملیتونو ګډون درلود او د هر قوم او هر نژاد شاعر د جګړماراتو او لوټماراتو غندنه کوله او د وحدت او مینې پیغام ئې درلود.

ددې ټولو سره سره نوموړې مشاعرې وښوده چې د هېواد فرهنګ پالان او علما د افغانستان د اسلامي دولت په خنګ کې ولاړ دي او د اسلامي حکومت د ټولو اسلامي پالیسیو په کلکه ملاتړ کوي نو په دې اساس موږ د شریعت اوونیزې دا زیار د قدر وړ بولو او له لوی خدای (ج) څخه غواړو چه د شریعت اوونیزه نور هم خپل فعالیت تیز کړي او د علم او فرهنګ مینه وال وخت پر وخت سره راغونډ کړي او د فرهنګ طوفان وهلې بېړۍ بېرته ساحل ته سیخه کړي.

والسلام

شاسوروور ملا محمد حسین «مستعد» د افغانستان د اسلامي دولت د علومو د اکاډمۍ رئیس

عزیز الله مجددي رئیس امور دار الایتام های شهدا و معلولین

جریده وزین شریعت که یک سنگر علمي و فرهنګي فرهنگیان با احساس کشور مان بشمار میرود با بازگو نمودن حقایق در حساس ترین برهه از زمان دریچه از حقایق و واقعات میهن بخون غنوده ما را بروي ما باز کرده لحظه هم در اظهار حقایق اغفال ننموده است.

به سلسله این فعالیت ها یکي هم تدویر مجلس مشاعره بهاري بود که در جهت شگوفایي فرهنگ و ادب کشور اسلامي مان نقش ارزنده داشته از یکطرف باعث تشویق نسل هاي فکري جوانان و نوجوانان جامعه ما خواهد بود و از جانبي به غنامندي بیشتر فرهنگي و ادبي کشور ما افزوده و عرصه شعر و ادب را رونق خوبتري خواهد بخشید. در اخیر یك پیشنهاد مخلصانه بنده در رابطه به تدویر همچو محافل ادبي براي اهتمام کنندگان اینست که اشعار و پارچه هائیکه تحت موضوع یا عنوان شده مواصلت میکند براي آن حق اولیت خوانش داده شود.

به امید پیروزي اسلام عزیز در سراسر جهان

شاعرانو د خپل اسلامي دولت څخه دفاع وکړه

د ۱۳۷۶ کال د حمل د میاشتې په لومړۍ نیټه چې کومه مشاعره د شریعت جریدې د مسوولینو له خوا د کابل په کانټیننتال هوټل کې ترتیب شوې وه ډېره په زړه پورې وه او ددې مشاعرې یو څو نقطې په ځانګړي ډول د یاد وړ ګڼم هغه دا چې:

۱ - مشاعره د سولې او ورورۍ او په ولولو ډکه فضا کې پیل او پای ته ورسیده.

۲ - شاعرانو خپل آزاد خیالات بیان کړل او د هر ډول انتقاد څخه خوندي وو.

٤ - د زیاترو شاعرانو په شعرونو کې د هدف او مرام نقطه مشترکه وه.

۵ - زیاترو شاعرانو چې په نومو بې سره پېژندل له نږدې نه یې هم سره ولیدل.

٦ - ټولو شاعرانو د خپل اسلامي دولت د دریځ او اهدافو څخه پخپلو شعرونو کې دفاع وکړه او خپل اسلامي دولت یې تائید کړ.

٧ - شاعران پدې مشاعره کې تشویق او ترغیب شول.

زه پخپله ددغه ډول مشاعرو د دایرېدو پلوي کوم او باید چې شاعران په لوړه سطحه تشویق شي ځکه چې شاعران د ټولنې ژبه راو سترګې دي.

خانجان وفادار

په تیرو دوه لسیزوکې دا مشاعره بې ساری وه

د شریعت د اوونیزې قدرمنو چلوونکو!

السلام علیکم و رحمت الله و برکاته

شعر او مشاعره زموږ د هېواد د فرهنګ په ګلشن کې پرون هم او نن هم د پاملرنې وړ موقعیت درلود او لري یې. شعر د افغاني ټولنې د فرهنګ تر ټولو ښکلې شمله پاتې شوې ده او د ادب او هنر د ټولو ټولګو د فهرست په سر کې ځای لري.

تاسو ته کور ودانی وایم چې د هېواد په دغو ربړونکو شیبو کې مو هم دا ښکلې او د ډېرو لوړو انساني ایډیالونو لرونکې عنعنه هېره نکړه او د ګلونو په موسم کې مو د غزلونو بزم جوړ کړ.

دا مشاعره زما په اند له هر اړخونو دپام وړ وه، په دې توګه:

۱ - زما په یادښت د شاعرانو شعرونو او د شعراو شاعرۍ د مینه والو د شمیر او کمیت له مخې په تیرو دوو لسیزو کې دا مشاعره بې ساري وه زما نه باورېږي چې په دومره شمیر شاعرانو او ګډون کوونکو دې په داسې مشاعرو کې ګډون کړی وي او له سا نه تر ښکاره پورې دې شعرونه اورولي او اوریدلي وي.

۲ - که له یو څو نظمونو را تیر شو نو د مشاعرې شعرونه د کیفیت او څرنګوالي له مخې هم په زړه پوري و د هېواد دردونه او انساني غمونه، ویرونه او ساندې او مینه او عشق، زموږ د شعرونو پیغامونه او ښکلاګانې وې.

۳ - تر ټولو خوشالوونکې خبره خو دا وه چې په دې مشاعره کې یو شمیر ځلمي او نوې څېرې د شعر او شاعرۍ ډګر ته راووتې او په بریالیتوب راووتې د دوی را څرګندېدل صور پر حیثیلي راتلونکي شاعرۍ ډاډمن کوي او د نویو فتحو زیری راکوي.

والسلام. اسحق ننګیال

آرزومندم که تحریک اسلامي طالبان و دولت اسلامي همچو مشاعره ها را در آینده نیز ترتیب نماید

مشاعره- که از طرف اداره محترم هفته نامه «شریعت» ترتیب گردیده بود واقعاً دلچسپ و فراموش نا شدني بود. باید گفت که کیفیت رنگیني این مشاعره گواه نهایت ارزنده در جهت غنامندي فرهنگ اصیل ملي و اسلامي این خطه باستاني تلقي میگردد. از آنجائیکه دیده شد دراین مشاعره واقعاً آزادي بیان و افکار موجود بود که این امر بازتاب دهنده احترام نظام تحریک اسلامي طالبان نسبت به اهل قلم و فرهنگ این دیار میباشد.

با احترام ملا محمد موسي رئیس عمومي مطابع دولتي

ددې مشاعرې ساری نه لیدل کیږي

موږ چه هر څومره ځلمي کړي او یا مو لیدلي دي ددې مشاعرې په څیر نه وي.

زما په خپل نظر داسې منوره او روښانه او علمي مشاعره ډېره کمه لیدل شوي دي. تر له لوي او متعال خدای (ج) څخه غواړو چه نور هم توفیق او قدرت د علمي جلسو جوړولو او دې مظلوم او بې دفاع اولس فرهنګي فعالیت ته زمینه برابره کړي زموږ غوښتنه له ټولو مسؤلینو خصوصاً له اطلاعاتو او کلتور څخه دا ده چه د شریعت د اوونیزې دا ... لپاره داسې زمینې نورې هم

ص٦

د «شریعت» اوونیزې مشاعره د پوهانو په اند

د دولت د چارو د رئیس محترم مولوي محمد طاهر «انوري» نظر

د پلیگون مقدس مشهد ډیر د یادولو وړ دی

د شریعت اوونیزې مشاعره ډیره ښه مشاعره وه ډیره مثبته نتیجه یې درلوده له دې فرصت نه په استفادې غواړم چې د شاعرانو او د مشاعرو د سرپرستانو پام دې لاندې ټکوته راواړوم

په افغانستان کې خو روسانو او د هغوي مزدورانو ډیر زیات ظلمونه کړیدي په سلګونو بې ګناه مسلمانان یې شهیدان کړیدي خو د پلچرخي تر څنګ د پلیگون مقدس مشهد ډیر د یادولو وړ دي زموږ هیله له شاعرانو او لیکوالانو څخه دا ده چې د کمونستانو د وحشت دې غښې بیلګې ته خاصه توجه وکړي دوهم دا چې دا ښکاره خبره ده چې هر کار مشرقي کیدلي شي خو د ترقي انتها ته رسیدلي نه شي ددې لپاره چې دا مشاعره افغاني مشاعره ده او د ځوانانو تر څنګ ګڼ شمیر مشرانو او سپین ږیرو هم په کې برخه اخستي وه او په هره مشاعره کې ګډون هم کوي نو د دوي د احترام لپاره احتیاط په کار دي که په مشاعره کې د خط او خال شعرونه وویل شي پروا نلري خو جدي توجه باید دې خبرې ته وشي چې مشاعره ژبني او توکمیز رنګ ونه لري ځکه دا ډیره خطر ناکه موضوع ده که څه هم الحمد لله په دې مشاعره کې خو ددې اختلافاتو احساس هم ونه شو دا مشاعره له هره اړخه ښکلي او په زړه پوري وه خو په عام ډول دا توصیه کوم چې زموږ دعوت باید د اسلام او د ملي وحدت د تحفظ لپاره وي .

دریمه خبره دا ده چې موږ هغه خلک چې د جهاد په وخت کې یې قربانۍ ورکړي دې تکلیفونه او ستونزې یې زغملي وي محترم ګڼو هسدا راز هغه قوماندانان چې له خپل خداي ، رسول او ملت سره مخلص وي موږ ته د قدر وړ دي خو هغو خلکو چې د مجاهد او قوماندان په نوم په خلکو ظلم کړي وي او یا اوس مسلمانانو ته صدمې او دردونه رسوي هغه که د ملت یو فرد وي او که د کوم تنظیم امیر وي زما تقاضا دا ده چې د دوي څیري او اعمال وغندل شي او د شعر او قلم په ژبه خلکو ته رسوا شي .

د اطلاعاتو او کلتور د سرپرست وزیر محترم ملا امیر خان «متقي» نظر

د مشاعري مثبت اړخونه ډیر وو، خو هغه څه چه ماته ډیر جالب وو هغه دا وو ، چه له ډیرې اوږدې مودې وروسته[1] یوه داسې مشاعره وه چه له هر ډول ژبني قومي ، سمتي او تنظیمي تعصب څخه پاکه وه، او د اسلامي وحدت رڼا پکې ځلیده د مشاعري یو بل اړخ هم ډیر جالب وو، هغه دا چه د مشاعري ګهونکیونکي ډیر مطمئن خوشحاله او یوه له بل سره محبت کونکي ښکاریدل .

زمـا دا یقین دي چه په دا ډول مجالسو سره به زموږ نوي ځوانان ډیر ښه تربیه او په عامه سطحه به د مسلمانانو په منځ کي د ورورۍ فضا را منځته ته شي

والسلام

ورور مو متقي

دې مشاعرې خلکو ته نوی روح او امیدونه ورکړل

له کله چه په کابل کې د طالبانو د اسلامي تحریک په مشري یو اسلامي حکومت جوړ شوي نو هرا ړګان د لوي خداي «ج» په مرسته د پخوانیو ارګانونو په پرتله حق ته ډیر خدمت او د درنو کالو کارونه کړیدي . د شریعت اوونیزه هم لکه څنګه چه په شروع کې یې په داسې وخت کې نشرات پیل کړل چه ټول هیواد وال د دښمنانو ډیرو پروپاګندیو له کبله د تحریک په باب په تشویش کې وو او مختلف نظرونه یې لرل خو الحمد الله د شریعت اوونیزې نه یواځې په پاکستان او افغانستان کې د هیوادوالو نظرونه روښانه کړل بلکې د هیواد نه لرې د امریکا او اروپا په براعظمونو کې یې هم هیواد وال له هغه حقیقت نه خبر کړل او د طالبانو د اسلامي تحریک اهداف یې ټولو خلکو ته روښانه کړل د کابل د فتحې نه وروسته یې هم د الله«ج» په مرسته د وطن په داخل او خارج کې ډیر فعالیتونه وکړل سره ددې چه اوس دا اونیزه په کابل کې نشر کیږي او دلته تر اوسه داسې خاص د پوستې نظام همه نه و خو دې اوونیزې د تحریک اهداف خلکو ته ورسول موجود خلک خبر کړل .

د شریعت اوونیزې فعالیتونو وښوده چې د طالبانو تحریک نه یواځې په افغانستان کې سوله او قراري راوسته بلکې د هیواد د تالا او تیت پرک فرهنګ لپاره یې هم بدون د کوم سمتي لساني تبعیض له پرته زیات کار کړي ټول فرهنګي اثار چه ورک شوي و راجمع کړل

د شریعت اوونیزې د جمعې د ورځې مشاعري خلکو ته امیدواریې ورکړه ، هغه تیت او پرک فرهنګیان چې د څو کالو لا هیسې یې په خیال او خاطر کې هم دا نه ګرځیدل چې یو ځل بیا به د افغانستان په زړه کې په داسې ارامـــه ډاډمنه او له توکیز ، تبعیض نه پاکه فضا کې راټول شي زما د معلوماتو له مخې ډیرو هیوادوالو چې دا مشاعره یې د شریعت غې راډیو له څپو اوریدلي ده نوي روح او نوي امیدونه ورته پیدا شویدي .

الحاج مولوي احمد جان د کانونو او صنایعو وزیر

شاعر مسلمان دوست خدا است

د د لوړو زده کړو وزیر صاحب! لطفاً ددې مشاعرې په هکله خپل نظر او برداشت راته روښانه کړي !

نحمده و نصلي علی رسول الکریم ، نظر و برداشت ما درین محفل مشاعره که جزء از تعلیم و تربیه اسلام است مثبت بوده ازینکه ادیبان وطن ما همه از ایمان و اسلام مملو بوده در شعر هاي خود ثنا و صفت خداوند لایزال و صحبت با وطن خویش و ایمان با پیغمبر گرامي و به سر بلندي اسلام و شریعت و قائم شدن صد در صد نظام اسلامي، حاکمیت را در قصیده ها و شعر هاي خویش یاد مینمایند خداوند کریم برایشان جزأ انما الاعمال بنیات را عنایت فرموده از خداوند کریم تمنا دارم که ایشان را مصداق الشعراء محبوب الرحمن بگردانند و ایشان را همراي جمیع امت مسلمه و ماو شما عمل نیک عنایت فرماید .

والسلام

مولوي سید غیاث الدین آغا وزیر معارف

د اطلاعاتو او کلتور وزارت د نشراتي معین محترم مولوي رحیم الله «زرمتي» نظر

لکه څرنګه چه ما واوریدل او د ځوان نسل جذباتو ته ګورم نو سل په سلو یقین باور یم چه موږ هم فرهنګي او هم جهادي سنګر ساتلي شو .

زه خو داسې انګیرم چې دغه مشاعره په دغو شلو کلونو کې زموږ په غم ځپلي او ویرجن هیواد کې چانه وه لیدلي او یې ساري وه بلکي له شلو کالو اخوا نه هم زما ، نه یادیږي ، ډیره درنه غونډه وه ، پتمن او د عزت خلک پکښې راغونډ شوي وو، ښه نظم او د خوشالي فضا د شاعرانو مړي ولولي راوپارولي او شاعرانه ټوکې اوشوخي یې هم پکښې وکړي، نه یوازې د غونډې برخه والو خوند ورنه واخیست بلکې د غونډې د راپورتاژ خپرولو په هیواد کې دننه کیدلیو او له هیواد نه بهر مسافرو او مهاجرو افغانانو ته هم زړونه ورژوندي کړل ،

پاته شوه د داسې مشاعرو د ګټو خبره : لویه ګټه یې دا ده چې داسې مشاعره د فکري روزنې لپاره ډیره اغیزمنه وسیله ده ، ځکه له یوې خوا نه ادیبان او شاعران د یو او بل له ذهنیت اخلاقو ، ادبي ورتیا او قابلیت نه ګټه اخلي، او له بله پلوه دا چې که یو شاعر په یوه مشاعره کې تکړه وځیږي نو د بلې لپاره په خپل ټول زور سره هڅه کوي چې ګټلي تکړه والي له لاسه ور نه کړي بلکې لا نور هم پر مخ ولاړ شي او کـه تکړه نه وي خنلي نو د بلې مشاعرې له پاره په سر مـا تولو زیار باسي چې ځان په تکړه همزولو پسې ورسوي .

بله ګټه یې دا ده چې شعر او ادب دمعنوي فرهنګ لویه برخه ده نو د سالم فرهنګ د پر مخ تګ وسیله کیږي او د زیانمن شوي فرهنګ د بیا رغاونې په لوري هاند او لویې هڅې دي بله ګټه یې دا وي چې د ټول قـام مـړې هیلې او د مـایوسي له تورو ایرونه لاندې ولولي راوپاروي او هغـه بیا بله لمبـه شي د سستي او تنبلي ټولي خځلي او خاشاک وسوځوي او د قام د پرمختګ لاره پاکه شي؛ دغـه رنګه نوري ګټې هم لري کـه ټولي دلته وځیرو نو به (... مثنوي هفتاد من کاغذ شود .

والسلام

نظر مولوي عبدالرقیب وزیر امور عودت مهاجرین

مشاعره که از طرف کارکنان اداره هفته نامه «شریعت» راه اندازي شده بود افتخار بزرګ فرهنګي عقیدوي مردم متدین و رنجدیده ما است من امیدوارم که این مسایل دوام پیدا کند زیرا مردم به این مجالس عشق و محبت دارند و این یګانه راه مبارزه و دعوت به سوي فرهنګ و ادبیات ما میباشد .

لکه څنګه چه طالبانو وکړلاي شو خپل ثابت قدم په سنګر کښي معلوم کړي نو داسې یې په قلم او ادب کښي هم خپله ریښتیني دنده تر سره کړه .

هغه شعرونه باید د چاپ وړ شي چه د واقعیاتو ښکارندوي وي .

دشریعت د اوونیزې له مدیر مسؤول او کارکنانو څخه یو جهان مننه هغه شاعرانو چه دلته تشریف راوړي ؤ او د نورو شاعرانو سره د لیدو زمینه د شریعت اوونیزې ورته مساعده کړه او ټولو په یو درنده مشاعره کښې ګډون وکړ د هیرولو نده .

عبداللطیف «نثار»

د مشاعرې پس منظر

دغې مشاعرې د طالبانو او فرهنګي حلقو تر منځ هغه سوابغ او ذهني خنډونه چې د یو پوچ پروپاګند په صورت کې را منځ ته کړي وو ، له یوې مخې لیرې کړل .

اوس هر څوك پدې پوه شول چې طالبان د علم او فرهنګ قدر کوي، او د خپل مشرتابه په چوکاټ کې یې روزي .

مشاعرو له کـه لړه نوره ازادي هم ورکړل شي ، لکه چکچکي بدد نده .

دا مشاعره ډیره بریالی وه .

درنښت – ناګار

د مشاعرې په اړه څو کرښې

دغه مشاعره چه په کانتیننتل هوټل کښې وشوه د ډیرې خوښۍ په فضا کښې تر سره شو څوښې لومړي په دې کې وه چې په ډیره زیاته اندازه د شعر مینه وال دغلته راټول شوي و اوټولو شاعرانو خپل احساسات دشعر په ژبه په ډیره ازاده فضا کښې واوروول زموږ هیله ده چې په راتلونکي کښې هم شاعرانو ته ددې وخت ورکړل شي . چې د انتقاد تر سیوري لاندې حقایق را برسیره کړي .

قاري فضل الدین «سراجي»

ټول شعرونه د محمدي«ص» شریعت په رڼا کې ولوستل شو

زه دې تاریخي مشاعرې زیات تشویق کړم تر څو خپل مسلمان او مومن ملت لپاره په ځان، مال او قلم خدمت وکړم . د مشاعرې ښېګڼې زیاتې وي خو د بیلګې په توګه دغه څو لیکم .

۱ – د مختلفو سیمو څخه زیات مشاعران راټول شوي وو او بدون د کوم لور پلوي څخه یې آزادانه شعرونه ولوستل

۲ – شعرونه زیاتره د ګران هیواد ویراني او ویجاړ توب خبري څرولي . او خلك يې دي ته هڅول چې د خپل هیواد د ودانۍ لپاره خپلې مټې راوبغاړي .

۳ – ښکاره ښه والي ئي دا هم ؤ چې ټول شعرونه د محمدي غرا شریعت په رڼا کې ولوستل شول .

انتقاد :

د ښه شاعر ښکلي شعر چنداني په ذوق سره نه بدرګه کیده د ځینو شاعرانو شعرونه ته په زړه پوري او زیات اوږده ؤ .

سید احمد روحاني محصل انجنیري پوهنتون ننګرهار

د افغاني شعر د ملکي قدر

زمـا په نظر د شریعت د اوونیزې مشاعره له یوه اوږده سکوت وروسته هغه مشاعره وه چې د افغاني نشان تر سیوري لاندې یې پرته له ژبنیو او سمتیزو مسألو د افغاني شعر د ملکي قدر وکړ، او همدارنګه دغې مشاعرې یو ګل بیا د هغو شاعرانو چې پخوا یې پرخولو برغولي ایښودل شوي ؤ لرې کړل، دغې مشاعرې یو روزنیز فکر هم لاره د ځوانو شاعرانو په روزنه کې یې مشره ونډه واخستـه زما په اند چې د دغې مشاعرې ویرې به ډیر فکرونه شاعرانه وګرځه را کاږي او د ستر خوشال ددې بیت :

له خوشال سره که کیښتي یو څو کاله
دا د غره څټك به واړه شاعران شي

امید په دولس په ګرځ ګرځ کې یو پیغام وګرځوي . خو د دې ټولو خوږمو سره سره که د شاعر په فکر، د خیال ، سانسور کرښې رانه کښل شي، نو د شعر د ښېګلي ملکي قدر به موږ کړي وي.یو شاعر وایي : شعر د هغې خوش اوازې مرغۍ غږ دي چې موږ باید د دغې مرغۍ له حواړه غږ نه یوازې خوند واخلو ...

یو بله خبره دا ده چې : ځینو افرادو، تنظیمونو به دا ویل چې طالبان فرهنګ نه لري فرهنګي مسایلو په برخه کې له بې تفاوتي سره سره د فرهنګ دښمنان هم دي خو دغې مشاعرې د هغو ټولو افرادو او تنظیمونو په خولو برغولي کیښودل او دا یې حسونه کړه چې طالبان د فرهنګ دښمنان نه دي بلکې دوي د یو اصیل افغاني فرهنګ استازي دي که چیرته په راتلونکي کې نوري داسې مشاعرې هم وشي نو زمـا په اند د دښمن د ټولو بې ځایه خبرو په مقابل کې به سپر وي او همدارنګه لکه څنګه چې په دې مشاعره کې له ولایاتو او بهرنه شاعران را غوښتل شـوي و کـه په راتلونکي کې هم د افغانستان له ټولو ولایاتو شاعران راوغوښتل شي. نو له فرهنګپالنې سره سره به یې د ملي وحدت دریځ هم خوندي ساتلې وي .

لال پاچا ازمون

دا مشاعره د ګلونو ټوکرۍ وه

وایي : «که شعر ویل هنر وي یا نه وي خو د شعر اوریدل او په هغه پوهیدل هرو مرو هنر دي . » د مشاعرو خوښایې یوه همدا ستره موخه او ګټه وي چې هلته شعرونه اوریدل کیږي او د سړي ذهن ددغه بڼ له رنګارنګ ګلونو څخه له ځان سره یوه ښکلې او رنګینه ګلدسته جوړوي .

کومه مشاعره چې د «شریعت» اوونیزې له خوا د پسرلي د راتګ په مناسبت جوړه شوي وه هم د همداسې ګلونو ټوکرۍ وه . ددغې مشاعرې یوه ښېګڼه خو داوه چې په هغې کې د هر ذوق له غوښتنې سره سم شعرونه وویل شول په هغې کې دیني او تصوفي، حماسي او وطني شعرونه همدا راز ذوقي او هنري غـزلونه هم شـامل وو. کـه څـه هم د مشاعرې موضوع پسرلي او د نوي کال راتګ وو خو بیا هم د ډول ډول شعرونو اوریدلو دغه ادبي غونډه لا رنګینه کړه . که په راتلونکي کې مشاعرې جوړیږي نو دا ښایي چې د هـمدې مشاعرې په ډول (پر هغې پولې چې د اسلام د سپیځلي دین او د اسلامي دولت د پالیسي پر خلاف نه وي) د هغې فضا آزاده وساتل شي او په هغو کې شاعران دې نه مجبور شي کـړای چې خامخا د ټاکل شوي له پاره شعر ولیکلي چې زموږ دغه مشاعره همداسې یوه مشاعره وه ، پسرلي په کې وستایل شو خو هر شاعره په بله ژبه او خاص طرز وستایه .

ددې مشاعرې یوه بله ښېګڼه داوه چې په هغې کې هغه ځیني میدان ته راووتي چې له ښه استعداد سره سره لا تر اوسه پټ پاتي وو او هغو لانور نه ورته وو چې اوس اوس د همدې مشاعرې په لاس له ایرو څخه راوایستل شول .

په پای کې ددغسې مشاعرو او ادبي غـونډو جـوړول چې د اسلامي دولت د فـرهنګ پالي نمـایندګي کـوي، ځـورا ارزښتمن او د پام وړ اقدام بولم. او د هغې جوړونکو ته له خداي«ج» څخه اجرا او لا بریالیتوب غواړم .

په درنښت

عبدالغفور لیوال

ددې مشاعرې په جوړیدلو ډیر خوشحاله شوم

دا مشاعره ډیره ښکلي مشاعره وه په جوړیدلو یې ډیر خوشحاله شوم چې زموږ په طن کې د خپلې ژبې قـوم او دین د لوړولو په خاطر داسې مشاعرې کیږي .

خداي«ج» دې وکړي چې په اینده کې هم داسې مشاعرې جوړې شي

والسلام

عزت الله «عزت»

دا مشاعره د علمي ذخیرو څخه د ګټې اخستلو ښه محفل وو

کومه مشاعره چې د شریعت اوونیزې په ابتکار دایره شوي وه زما په نظر یو د ګټورو وه د یو شمیر اوږ... ځـوانانو د پیژندل شویو استعدادونو د پیژندلو لپاره یوه ښه زمینه وه همدارنګه د هیواد د مختلفو ژبو او مختلفو سیمو د ادیبانو او شاعرانو تر منځ د پیژندګلوي او د یو بل له علمي ذخیرو څخه د ګټې اخستلو ښه محفل وه راتلونکي کې هم اقلاً په دري میاشتو کې یو ځل د داسې محفلونو تدویر د نوي نسل د ادبي استعدادونو د پالنې او روزنې لپاره یو ضروري امر دي په دې لارکې ستاسې بریالیتوب غواړم

والسلام محمد نذیر احمدزي

شاعران دې تشویق شي

له خارج او لیرې ولایاتو نه مشاعرې ته د شاعرانو بلنه او میلمه پالنه د ادب پالونکي دولت د فرهنګ پالنې ښـکاره بیلګه ده . د شریعت د ورځپاڼې محترمې اداري ته د ۱۳۷٦ کال د وري د میاشتې د لسمې نیټې د مشاعرې په اړوند خپل نظر داسې څرګندوم .

دا یو جوت حقیقت دي چې فرهنګ او ادب د ټولنې ښښه او اجزاؤ څه یو مهم جز دي نو ځکه د فرهنګ او ادب پیاوړتیا ته خاصه پاملرنه د ټولنې د ټولو غړو او په مشخصه توګه د ادب پالونکي دولت ایماني او وجداني دنده ده .

د ننګرهار او ټولو ولایتونو څخه او ان له خارج نه مشاعرې ته د ګډون لپاره د ادب د پوهانو او مینه والو بلنه د حکومت د فـرهنګ پالنې او میلمه پالنې ښکاره بیلګه ده او دا خبره به په ځاي پریږدو چې د نننۍ مشاعرې ساري اټریا وروستي دوو لسیزوکې نه و .

زما په شخصي نظر که دا بهیر په همدې شکل دوام وموندي او لږ نه لږ هم پیاوړې شي نو د ټولنې به علمي ، ادبي

ص (٤)

پلیگون

مشهد مقدس قربانیان انقلاب اسلامی

محمد نذیر «احمدزي»

پلیگون مقتل، مدفن و مشهد هزار ها در هزار هموطن مظلوم و مجاهد ما

اي هموطن، اي مسلمان اپاقدم !

اي مسلمان ، اي هموطن ! اي پدر! اي برادر! اي مادر! و اي خواهر ! تاكنون گذشته از راز گم گشته ... [illegible]

[illegible]

انشا ـ الله از ... پلیگون ... شهداي مظلوم ... [illegible] ... خواهند داشت . انشا ـ الله

عبداللطیف «نثار»

د پلیگون عظیم مشهد

کاروان د قافلو شه اباسینه که مې وړې
په خیال د څکو غږ شه اباسینه که مې وړې
منزل له رسیدل دې غاړو دې اسانه ښکاري
په کلکو ارادو شه اباسینه که مې وړې
وړې، وړې سلګۍ د پلیگون د شهیدانو اورې؟
طوفان شه په څپو شه اباسینه که مې وړې
فریاد د مظلومانو دې څپو کښې درځنا کړه
انوار د تکبیرو شه اباسینه که مې وړې
ټوټې ، ټوټې اندام ئې چه لا بند په ځنګرو دي
یو سوال ددې ظلم شه اباسینه که مې وړې
د روس په ورکنده شه اباسینه که مې وړې
چې ظلم او وحشت ئې عاطفي دې بربنوې
ددې عظیم مشهد د میړو د روح لپاره
دعا کړه په سجدو شه اباسینه که مې وړې
یوځاي د ناهید کې ئې راجمع کړه هډوکي
سوغات د تاریخو شه اباسینه که مې وړې
ژوندي چه ئې له خاورو سره ځمکه ئې ریدله
تکرار د زلزلو شه اباسینه که مې وړې
راتلو نه ئې چه څه ښندي ، مینې لونی لاري ځاري
نسل د دوي د زړه شه اباسینه که مې وړې
بې شماره ټکري چه پلیگون کې لا پراته دي
قربان له دې سرو شه اباسینه که مې وړې
د خط او خال خبري په «نثاره» باندې نور پریږده
ورګډ په سرو لمبو شه اباسینه که مې وړې
۷۵ /۱۲/ ۲۸ وزیر اکبرخان

قاري فضل الدین «سراجي»

پلیگون ته

کباب کباب مې شو زړګي د سرو لمبو په ځوکو
په وینو رنګ یم چغیدلي د اغزو په ځوکو
شه ددې ټول عمر خولدونه مې له دې شیبې ځار
چې خپل نګار مې کړلو مینګل د شونډو سره په ځوکو
چې ټوټې ټوټې مې په مینه د کوثر اوبو ته
رسول ځان د شهادت د کوبالو په ځوکو
چه د میراني او همت نښې یې ښکاري پکې
موږ ته یې پرېښې دې تاریخ خپلو جلوو په ځوکو
چه د ځوځي پله ژندانیانو پلیګون ګلګون کړ
خدایه هیڅکلې یې مینه شول د چنو په ځوکو
ما «سراجي» ته خو اې ربه راکړې دومره همت
چې د ارمان بیرغ یې ودروم د غرو په ځوکو

د مشاعري د ګډونکوونکي په نامه د سرپرستي ...

ني په ښکلي ادب او ښکلي فرهنګ سره کيږي .

اسلامي فرهنګ د نړۍ له فرهنګونو نه ډير غني او ښکلي فرهنګ دي چي د پيړيو په اوږدوکښي ني منزلونه را وهلي دي په تيره بيا زمونږ د افغانانو اسلامي کلتور او دود چي بهايه ځيره او ښکلا لرله هغو مره ني زمونږ د کلتور او ادب د دښمنانو له خوا نه مرګوني ګوزارونه وخوړل، زمونږ دښمنانو زمونږ هر اړخيزه ورك کولو په ترڅ کښي زمونږ د اسلامي کلتور او ادب ورکولو ته هم پښيلي وه مګر لوي ځښتن داسي اراده نه وه کړي، او ستاسي د قلم زيي نه ني بو ځل بيا ښه زمينه برابره کړه چي خپل اسلامي کلتور او ادب ته بوازي ودان او ګلالنده کړي بلکي بو ځلېره ني د اسلامي

اوبښتون ښکلي لاري نه راواړه وي او د اسلامي شريعت له بهيره سره ني مل کړي دا ځکه چي افغانستان د اسلامي جهاد له پيله سره سم شعر د خط او خال بيلتون ، او وصال رقيب او اغيار دلبر او دلربا خپله پخواني بڼه بدله کړي ده او مجاهد شاعران له هغه بهير نه اوس رابيل شوي دي: د اسلام او جهاد ، شهادت او سرلوړي، ميړاني او شهامت له ځپانده سين سره په رغنده ولوله او شوق سره روان دي .

والسلام عليکم و رحمت الله

ستاسي د بريالېتوب، د ګران هيواد د سمسورتيا او د اسلامي امت د نيکمرغي په هيله

ستاسي ورور ملا محمد رباني

ستاسو ليکونه زموږ ...

تل بي کامیابي درلوده .

د افغانستان په جهاد کي چه تنظيمو ناسمي لاري ونيولي ډيرو ديني عالمانو تنظيمونه پريښودل خومانو نه لاړل او هلته بي نيمه کوله ډوډۍ خوړله خو د جهاد مال بي نه خوړ . اوس هغه تقوي لرونکي خلك تاسو ته درغلي دي

زما په عقيده، کامیابي د خداي دا د دي، غرور نه ځان ساتل ښه کار دي د پخوانيو حکومتو خپلچارو خلکو نه ځان وساتي چه د هر حکومت په طبع ځان عياروي خو په حقيقت خپلي ګټي لټوي اسلامي عقيده ورسره نه وي .

پخواني اسلامي مشرانو به له ډيرو عاجزواطرافيانو نه غوښتل چه دوي ته نصيحت وکړي په دي خبره هم تاسو پوهيږي نو هيله ده چه زما دغه ليك دي شريعت اوونيزه خپور کړي چه محترم مشران بي هم ولولي .

محترم ورور فريد احمد د امريکا

له وير جينا نه دا دي ستاسو ليك مو نشر کړ ستاسو له نيکو مشورو نه ډيره مننه هيله ده چي خپله قلمي همکاري به راسره جاري وساتي .

د شريعت اوونيز مشاعره د پوهانو ...

برابري کړي چه د افغانستان ټولو ولايتو کي روحي او فکري تربيي خلکو ته ورکړي نوره مو کامیابي په دوارو داريتو کي غواړو . والسلام

ورور مو ملا سيد نور بارزك

مشاعره په ميڼه ناکه فضا کي تر سره شوه

زما په فکر مشاعره ډيره ښه وه، مانه په زړه پوري بريښيده، په ميڼه ناکه فضا کي وه . که په راتلونکي کي داسي کيږي ددي دپاره چي شاعران ښه تشويق شي د ځان دپاره ني نه وايم لر تر لره بايد ښه شعرونو ته بايد بو لخه ډالي شي هغه که هر څه وي .

جان محمد «ستانکزي»

د شريعت د اوونيزې د مشاعرې په باب زما د اند يو څو ټکي

په عمومي صورت شاعره ډيره ښه او د فرهنګپالني زيري وو په دي مشاعره کي ډير ښکلي شعرونه واورول شول . ددي مشاعري بو ستر ټکي دا دي چي فرهنګپالني ته د ملي وحدت جامه ور واغوستل شوه، په دي مشاعره کي د ټولو مسلمو د زړه له اخلاصه عزت او هر کلي وشو. که په راتلونکي کي هم د داسي مشاعرو لړۍ جاري وي نو زه دا ډاډ ورکوم چي زمونږ فرهنګ او ادب به د پرمختګ پو ړووهي . زه ددغي مشاعري له ټولو ګډونوالو په تيره د اطلاعاتو او کلتور د وزارت له مشر محترم ملا امير خان «متقي» ، داطلاعاتو او کلتور د وزارت له اداري او مالي معين او د شريعت اوونيزي له مسؤول مدير محترم مولوي الحاج عبدالرحمن احمد «هوتك» او ګران ورور «حقيار» صاحب څخه د زړه له کومي مننه کوم او د فرهنګي څېړنوتو په لړ کي بي برياليتوب غواړم .

ملنګيار

پسرلي راغلي دي، مځکه وښه سوبده، نامبه قوه په ونو، غنو اووسوکي په ډيره مينه او قوت دژوندانه ساه پوکي، طبيعت لګيا دي په ونوکي پوکي او په بوټو کي غوټي غوړوي. په باغونو کي ګلان او په راغونوکي غاټول د لښونکو په زړونو خبري لګوي، رنګ وبوي د دلبريو له پاره په سبالي احتنه دي، د هوا اعتدال د طراوت او خوشالي خبرات کړي دي او ورمي کور په کور د خوشبويو ډالۍ وېشي .

خو ارمان ، پسرلي د افغانانو له سيمي مرور دي خوشالي د افغانانو زړونو ته له راتګه لټه کوي، زمونږ د چاپيريال پرخي د ګونډو او بورو رارو اوسکي دي، دلته د خاچونو (بلبلانو) د شخول پر ځاي د ټکيو پښانو د ګوګارو زړه د ببلونکي پوږ د غرش سټني لړزوي . ددي اسکېرلي ملك پر ټړو او حوړو لا د مظلومو شهيدانو د پاك وينو تيلي پاتي دي . زمونږ شاعران که

غواړي شاعري بي د وخت الهام او د زمان رخ وي، بايد داسي شعرونه ووايي چي د ګړېدلي اوړيدلي افغان اولس دوريښو زړونو د تاو ښکاروندي وي او ناقدين بي بليغ ادب و بولي، بليغ ادب هغه وينا ده چي له حال او متحل سره مطابقت ولري.

په دغه پسرلني مشاعره کي ما د طبيعت د ښکلا ستاينې واوريدلي خو داسي شعرونه مي هم تر غوږ سول چي حق لري بليغ ادب ورته ووايو او د وخت الهام او د زمان رخ بي وبولو .

اکاډيمېن پوهاند رشاد

۳ حمل ۱۳۷٦

سخنيکه از قلب و دل خيزه بر دل نشيند

يقيناً اولين مجلس مشاعره، منعقده در هوتل انتر کانتيننتال که در آن وزرا محترم کابينه دولت اسلامي ، شخصيت ها و رجال برجسته علما ، فضلا ، دانشمندان، شعرا ، اديبان، نويسندگان مخلص مؤمن و وطندوست از گرد و نواحي کشور شرکت ورزيده بودند.

از اولين ساعات روز جمعه، مبارك تا اخرين ساعات آن ادامه داشت، مجلس پر فيض، سرور، مبارك سالم، نافع سودمند بود، اشعاريکه توسط شاعران جذاب راجع به وحدت يکپارچګي امت مسلمه و اظهار الم حزن تحراز ادوار رژيم ها ماحبه غير انساني و غير شرعي و بيانګر محروميت ها، مظلوميت ها، شکنجه ها، ويراني ها، زنده به ګور کردن ها دستجمعي، حضرات علما طلبا و بالعموم مسلمان ها افغانستان عزيز مايه، مفخرت و مسرت همګان را فراهم ساخت و مورد دلچسپي و سرګرمي و استقبال حاضرين قرار ګرفت .چشمان شاملين اشك مي ريخت واقعاً سخنيکه از قلب و دل خيزد بر دل نشيند و اثر کند البته احتفال چنين سيمينار علمي ادبي که به ابتکار هفته نامه «شريعت» تدوير يافته بود بسيار ارزشمند تلقي مي ګردد. بلي! در دارالخلافه، دارالنبوة (مدينة المنوره) در عهد منور سرور کائنات «ص» شعرائي بودند مانند عبدالله ابن رواحه «رض» که در غزوات اشعار حماسه آفرين مي سرودند به مقابله شعرا مشرکين و عهد جاهليت به جهاد لساني کفر شکن مي پرداختند. مسلمين را تشويق و ترغيب به جهاد في سبيل الله مي نمودند اري! اشعاريکه در چوکات و چارچوبه شريعت اسلامي به خاطر دفاع از اسلام و حاکميت قرآن بسرايند عبادت شمرده مي شود و شاعرانيکه اشعار شان معکوس باشد از سګ هاي جهنم خوانده شده اند . نعوذ بالله منها آرزومندم وزارت محترم اطلاعات و کلتور سيمينار هايي مسائل و مشابه علمي، ادبي، تعليمي تربيوي که در آن انتقاد سالم تعميري و تکميل کننده آزاد باشد به سلسله چنين سيمينار ها ادامه يابد، با اظهار امتنان و شکران و سپاس عميق از وزارت محترم اطلاعات و کلتور و مسؤولين محترم هفته نامه «شريعت» که همه وقت به زبان قلم در خدمت هموطنان بوده از هيچګونه سعي و تلاش در نشر و توسعه فرهنګ و ثقافت اسلامي و تنوير افکار عامه دريغ نورزيده اند توفيقات مزيد به ايشان در راه جهاد قلمي از بارګاه رب العالمين مي خواهم و من الله التوفيق

مولوي حاجي محمد رئيس عمومي لوژستيك وزارت داخله

يوه اندازه وسلې چي ...

موظفينو لخوا د پکتيا ولايت په مربوطاتو کي کشف او تر لاسه شوي .په خبر کي ويل شويدي چي ترلاسه شوي وسلي د پکتيا ولايت امنيه قوماندانۍ ته وسپارل شوي .

د ولاياتو د کرهڼي د رئيسانو په ګډون د کرهڼي علمي سيمينار د کرهڼي په وزارت کي جوړ شو

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړ : دا سيمينار چي د قرآن مجيد د څو آيتونو په لوستلو سره پيل شو ، لومړي د کرهڼي وزارت سرپرست محترم الحاج محمد نسيم اخند زاده د دا ډول سيمينارونو د اهميت او ارزښت په باره کي خبري وکړي او وبي ويل : پر ضوتو باندي لازمه ده چه خپل عنعنوي کرهڼه په ميکانيزه کرهڼه سره بدله کړو ده وويل په اوس وخت کي زمونږ هيواد وال خوراکي موادوته اړتيا لري چه دغه اړتيا لري کيدل د هيواد د کرهڼي د مسؤولينو او بزرګانو د هڅو او هاند غوښتنه کوي .

وريسي د کرهڼي وزارت لومړي معين محترم الحاج شمس الرحمن حبيبي د کرهڼي د علمي سيمينار د ضرورت په باب خبري وکړي او د کرهڼي د ښه والي او له بزرګانو سره د مرستي په برخه کي د ولايتونو د کرهڼي د رئيسانو د پاملرني غوښتني وکړه .

د شريعت اوونيز د اداري په نوبت ...

الحاج مولوي عبدالرحمن احمد «هوتك» ميلمنو ته هرکلي ووايه او د خپلو خبرو په ترڅ کي بي وويل تر هر څه لمړي د جلال اباد د غميزي د شهيدانو پاك روح ته دعا کوو خداي«ج» دي ددي پيښي د قربانيانو پاتي کسانو ته جميل صبر وکړي .

محترم هوتك وويل : طالبانو چي د اسلامي نظام د پيغکښت ، د خپلي خاوري د مځکني بشپړتيا ، خپل سياسي او ملي حاکميت لپاره کتاب په مدرسه او قلم په جيب کي کېښوده نو نه تنها دا چي په خپلو سرو وينو او سلګونو قربانيو بي د جهاد مورچل نود وساته بلکه د هيواد د مادي او فرهنګي رغښت لپاره بي هم مټي رابډ وهلي دي او په لړ وخت کي بي ډير ښه ښکاره کړيدي . وروسته ددي مشاعري په اړه د افغانستان د اسلامي دولت د سرپرستي شوري د رئيس محترم الحاج ملا محمد رباني پيغام د راډيو تلويزيون او افغان فلم د لوي رئيس ملا محمد اسحق «نظامي» لخوا برخوالو ته وراوورول شو چي په بوه برخه کي بي راغلي دي «عزتمندو وروڼو تاسو پوهيږي چي ادب د معنوي فرهنګ ډيره ستره برخه ده ، د ولسونو او نژادونو پيژندګلوي په ادب او فرهنګ سره ده مګر ښکلا بي په ښکلي ادب او ښکلي فرهنګ سره کيږي . »

وريسي محترم د قاري نور الحسن لخوا خو ايتونه ولوستل شول او د ننګرهار د پيښي شهيدانو ته اجتماعي دعا وشوه .

په خبر کي ويل شوي دي مځکې له دي چي محترم شاعران د خپل پيغام او الهي شريعت سره د مينې نه ډك شعرونه په هيواد کي د سولي او امنيت انګور ، د پسرلي د ګلونو موسم تمثيل او خپل هنري اشعار او ولولي مينه والونه وړاندي کړي محترم احمدضيا «شريفي» چي د پروګرام د فارسي برخي اناونسري بي په غاړه وه شاعرانو ته په خپل خطاب کي وويل «دا د بو رښتوني شاعر رسالت او مسؤوليت دي چي په خپلو شعرونو انسانانو ته لارښوونه وکړي له دي پرته هغه شعرونه چي انسان ته کوم خاص پيغام ونلري او د ويدو روحونو په راويښولو کي اغېزمن ثابت نه شي خلك ښغي لاري ته راونه بولي هغه شعر نه دي .

وريسي له بهر او د هيواد د بيلابيلو ولايتونو نه راغليو شاعرانو په خپلو احساساتو، خيالاتو، عاطفو او هنري تخلق باندي مشاعري فضا رنګينه کړه د غونډي لمړي برخه چي د علومو اکاډمي د رئيس محترم ملا محمد حسن «مستعد» په مشري کي وشوه غرنه دولس بجي او پنځه دقيقي پاي ته ورسيده.

په خبر کي ويل شويدي چي د جمعي ولمانځه تر ادا او چاي او ډوډۍ خوړلو وروسته د غونډي دوهمه برخه د الحاج ملا محمد موسي «خالقي» تر صدارت لاندي تر سره شوه .

د غونډي په پاي کي د اطلاعاتو او کلتو سرپرست وزير ملا امير خان «متقي» لنډه وينا وکړه چي د خپلو خبرو په بوي برخه کي بي وويل : ددي غونډي لوبه ګټيه او پيغام دا وو چي له ټولو کسانو وروسته ليکوالان او شاعران په بوه ډاډمنه او مطمئنه او ازاده فضا کي سره راټول شول او د ورورۍ او صميميت په ولولو کي بي بي له کوم فشار نه خپل شعرونه واورول .

محترم «متقي» وويل : پخوا به دا ډول غونډه د مذهبي تعصب ډګرونه جوړ الحمد لله په دي غونډه کي شاعرانو د وروري او ملي وحدت ژوندي ثبوت وړاندي .

زه په ډاګه وايم چي هر انقلاب چي له ګناه سره کلتور ونه لري زوال بي حتمي دي خداي دي مونږ ته توفيق راکړي چي د خپل وطن بچيان د هيواد ديرمختګ او د خپل اسلامي او ملي کلتور د بهايي لپاره دوروو په دي مشاعره کي ګل اغا «بيرنګ»، فضل ولي «ناګار»، محمد اياز «ملنګيار» ، مولوي عبدالرحمن «هوتکي»، قاضي محمد حسن «حقيار» ، عبدالحنان «همت»، لال پاچا «ازمون»، ملا محمد حسن «مستعد»، الحاج مولوي قلم الدين محمد اسماعيل «يون»، محمد اسحق «ننګيال»، عنقاد الرحمن «رودوال»، عبدالله بيکار ، غلام رسول «رانيح»، سيد پاچا«ياور»، عزت الله «حسرت»، غني «هاشمي»، خانجان «وفايار»، شاه محمود «توحيدي»، عبداللطيف «نشاو» ، دين محمد درويش، قاري فضل الدين «سراجي» ، محمد ناصر «نصيب»، فيض الله «محتاج» ، ميندنه ناك، نصير الله «حافظ» ، قتيل خوږياني، رازقي پړوال ، مير محمد حميد «سعيدي»، زمون کشر او بااستعداده ورور سيد محمد جاويد «هاشمي» ، احمد سير «محمود» ، دل، عبدالعليم «بډالي»، خدم احمد «حقيقي»، درمحمد «ګوهري» ، «ارمان»، محمد همايون «بي ريا»، مطيع الله «جلال» ، نصير احمد «نشاط»، نوبهار «همت»، مصطفي، نورستاني، احمل اپلد «يوسفزي» ، سميع الله «سميع»، وکيل «الهام»، خان محمد «ستانکزي»، عبداللطيف «لطيف»، ظفر «اهنداء» ، سيد محمود رسالي، عبدالغفور «لېوال»، ګهيځل نورمحمد «لاهو»، صديق الله «بدر»، واکهر محمد علم «ستانکزي»، امسدوال «خوږياني»، ساکزي، خليل «مخلص»، سرتور «بړال»، اديبار زرينګر، محمد هاشم «هاشمي» او ګڼ شمير نورو شاعرانو شعرونه واورول. همدا راز د شريعت اوونيزي د دائمي همکاري او دردمني شاعري محترمي خور حنيفه زاهد شاه جوبي شعر د محترم مولوي محمد اسحق «نظامي» او د محترمي خور دانش زرينګر شعر د محترم اديبار زرينګر لخوا برخوالو ته واورول شو .

دانشمندان در سيمينار تعليمي و تربيتي روساي ...

فرمودند :

خدمت به جامعه تنها وظيفه، مولوي ، ملا، داکتر و پروفيسور نيست، بلکه فريضه فرد فرد افراد جامعه، ما محسوب ميګردد .

متعاقباً هريك: محترم ملا امير خان «متقي» سرپرست وزارت اطلاعات و کلتور، محترم قاري دين محمد سرپرست وزارت پلان، محترم الحاج مولوي عبدالرقيب سرپرست رياست عمومي عودت مهاجرين و محترم مولوي محمد طاهر «انوري» رئيس اداره امور رياست دولت، بالترتيب پيرامون سياسته تعليمي و فرهنګي دولت اسلامي افغانستان ، سخنراني نموده مسؤولين امور را در جهت تربيه سالم اولاد وطن متوجه ساخته و از آنها خواستند تا نسل جوان کشور را تحت پرورش دلسوزانه و پدرانه خويش قرار دهند.

ايشان در سخنراني هاي شان اظهار داشتند :

آن چنانيکه در روايت به اين معني آمده : (رنګ قلم نويسنده افضلتر از خون شهيد است) : بناً خواهش ما از تمام دانشمندان کشور اينست: تا همه توان خويش را در راه ترقي علم و دانش و تربيه سالم اولاد وطن بکار ګيرند و در اين امر متقبل مشقات و تکاليف بيشتر شوند: چرا که اين تکاليف و مشقات بي جا نخواهد بود ! محترم ملا امير خان «متقي» سرپرست وزارت اطلاعات و کلتور !

- اينکه امروز جهان چرا با اين ملت دشمني دارد ؟ دليل آن اين است که جهان غير اسلامي، ما را نميګذارند تا بصورت واقعي نظام خدا را در ملك خدا تطبيق نمائيم، ما را نميګذارند تا فرهنګ، معارف و مکتب قرآن را در کشور خويش هر چه بيشتر تحکيم ببخشيم: چرا که آنها تحکيم اين امر را يګانه زوال و نيستي اهداف شوم و مغرضانه خويش در قبال همه هست و بود اين ملت پيش بيني نموده : ضمناً تقويت اين امر را دفاع از حقوق کليه مستضعفان جهان توجيه و تلقي ميدارند . (محترم الحاج مولوي عبدالرقيب سرپرست رياست عمومي عودت مهاجرين)

- ما با ساينس ، تکنالوژي و علوم مترقي معاصر جهان هيچ نوع ضديت نداريم: ليکن هدف ما اين است تا بايد همه علوم و کسب رشته هاي تخصصي در پرتو احکام الهي و ارشادات نبوي «ص» و فقه اسلامي آراسته بوده و به آن عمل ګردد. (محترم مولوي محمد طاهر «انوري» رئيس اداره امور رياست دولت)

بعداً روساي معارف مرکز و ولايات کشور، بالترتيب پيرامون نتايج و پيامد هاي سيمينار متذکره سخنراني نموده، نظريات و پيشنهادات شان را مبني بر تلفيق نصاب واحد تعليمي و تربيتي در کشور، مشروط بر اينکه هيچګونه مغايرت با اساسات اسلامي نداشته باشد؛ ابراز داشتند ؛ ضمناً به دولت اسلامي شان تحت زعامت عاليقدر امير المومنين وعده سپردند که فرزندان مومن اين وطن را از دل و جان تحت تعليم و تربيه انساني و اسلامي و نوازش پدرانه قرار خواهند داد.

محترم مولوي غياث الدين آغا سرپرست وزارت معارف ؛ يکبار ديګر تشريف آوري مهمانان را در اين سيمينار با شکوه خوش آمديد ګفته؛ ضمن تشريح تدوير اين سيمينار در خطاب به شاملين جلسه ګفتند :

امروز جاي بس افتخار است که به نصرت خداوند«ج» و حرمت خون پاك شهداي اسلام، زمام قدرت در کشور بدست عالمان واقعي دين قرار دارد .

ايشان افزودند : در رژيم هاي ګذشته بين مکتب و مدرسه ، معلم و استاد و شاګرد و طالب يکنوع درز و فاصله ايجاد شده بود ، که به همين اساس چندي قبل مکتوب از جانب عاليقدر امير المؤمنين ، عنواني وزارت معارف دولت اسلامي افغانستان چنين اصدار يافت، که بايد بعد از اين مکتب بنام مدرسه، معلم بنام استاد ، و شاګرد بنام طالب مسمي ګردد؛ بناً به تاسي از حکم فوق بايد بعد از اين در ولايات مفتوحه کشور که تحت رهبري تحريك اسلامي طالبان قرار دارند؛ مکتب بنام مدرسه، معلم بنام استاد و شاګرد بنام طالب ياد شود .

ايشان در قسمت ديګر از سخنان شان ګفتند : چندي قبل ما توانستيم طي يك سفر خويش به ولايات کشور، حدود (۲۰۰۰۰) جلد کتب را در مراکز تعليمي و مدارس ديني ولايات توزيع نمائيم؛ بايد تذکر داد اينکه : بعد از اين موسسات خارجي در کشور ما نميتوانند بدون موافقه وزارت معارف دولت اسلامي افغانستان در ساحه تعليم و تربيه، خود سرانه فعاليت نمايند .

در اخير محترم الحاج ملا محمد حسن اخند ، معاون شوراي سرپرست دولت اسلامي افغانستان با ايراد بيانيه، خردمندانه، شان تدوير همچو سيمينار ها را در شرايط کنوني که اولاد وطن نياز مبرم به اموزش تعليم و تربيه سالم و اسلامي دارد ، ابتکار نيك و ارزنده تلقي نموده، مسؤولين امور را متوجه وظايف انساني و اسلامي شان در امر تربيه درست اولاد اين وطن ساختند .

ايشان در خطاب به مسؤولين امور فرمودند : آن چنانيکه ما و شما خدمت دين حسما را از آرزو هاي ديرينه خود ميپنداشتيم، خوشبختانه امروز در برابر اين خدمت قرار ګرفتيم، امروز ما بايد نظام اسلامي را در کشور قائم و پياده ساخته و در اين امر پرواي حسود و بد کسي را نداشته باشيم، امروز بزرګترين خدمت به دين مقدس اسلام ذهنيت دادن احکام الهي و ارشادات نبوي «ص» به افراد جامعه (اعم از خوردان و بزرګان) ميباشد . سيمينار متذکره با صدور قطعنامه بر کار خود پايان بخشيد .

سيمينار متذکره با خوانش دعائيه مبني بر خير و فلاح جامعه، تحکيم پايه هاي نظام اسلامي و هم چنان ترقي و پيشرفت فرهنګ جامعه، توسط محترم الحاج ملا محمد حسن اخند معاون شوراي سرپرست دولت اسلامي افغانستان، عصر همان روز در فضاي آمن و اخوت ، همدلي و وحدت ملي خاتمه يافت .

موجوديت اسامه در افغانستان و تبليغات غربي ها

وجود مخالفين سياسي يك کشور در کشور و ملك ديګري در اين برهه، از عصر و زمان يك مسئله عادي و مأمول پنداشته شده و اشخاص و افراد که ساحه، زندګي را در کشور هاي شان بر خود تنګ مي يابند و به خارج از اوطان شان فراري و پناهنده ميګردند و برخي از اوشان عليه رژيم هاي کشور هاي شان به مخالفت ادامه داده داخل فعاليت ميشوند .

کشور هاي غربي و اروپايي تعداد کثيري از مخالفين رژيم هاي دول عربي و اسلامي را درکشور هاي خود جا داده و حتي آنعده مسلمانانيکه به اصطلاح غربي ها بنيادګرا و افراطي پنداشته ميشوند در دول متذکره از مراکز و دفاتر برخوردار بوده و فعاليت هاي سياسي و تبليغاتي عليه رژيم هاي حاکم کشور هاي شان دارند .

اکثر دول اسلامي خاصتاً شرق ميانه هم تعداد از مخالفين کشور هاي همسايه خود را در خاك خود جا داده و حتي آنها از مراکز نظامي و دفاتر سياسي و تبليغاتي برخوردار ميباشند، به طور مثال تعداد زيادي از مخالفين رژيم ايران در عراق و ساير کشور هاي عربي ، ترکيه ،پاکستان و ... بر ضد رژيم ايران فعاليت دارند که از جمله آنها به مجاهدين خلق ، طرفداران شاه سابق و کرد ها اشاره کرده ميتوانيم و همچنان مخالفين سياسي رژيم عراق در ايران ، ترکيه ، سعودي و ... بر عليه رژيم عراق و مخالفين سياسي و تجزيه طلب کرد ترکيه در عراق ، سوريه و ايران بر عليه حکومت متبوعه شان وفعاليت مخالفين رژيم تاجکستان درشمال افغانستان و ايران بر عليه رژيم تاجکستان را تذکر داده ميتوانيم ،که به اين صورت وجود مخالفين يك کشور در کشور ديګري يك امر عادي و پيش پا افتاده را به خود ګرفته است .

اما اينکه غربي ها و امريکايي ها وجود اسامه بن لادن را در افغانستان که هيچنوع فعاليت سياسي و نظامي عليه کدام کشوري ندارد و دولت اسلامي هم به هيچ کسي اجازه نداده و نميدهد که عليه منافع بر حق ملتها و کشور هاي ديګري از خاك افغانستان استفاده کند و اسامه را به حيث مهمان در کشور خويش صرف به اساس عاطفه اخوت اسلامي و بشري پذيرفته و به احترام که اسلام و عنعنه، افغاني ما حکم مي نمايد از اخراج اسامه از خاك خويش که قبل از حاکميت تحريك طالبان و دولت اسلامي در افغانستان اقامت داشت خود داري ميورزد که به اين صورت اقامت اسامه در افغانستان هيچ رنګ سياسي و جنبه، تحريك آميز عليه کدام کشور و خصوصاً کشور برادر مسلمان سعودي که در حالت حساس و خطير ، جهاد و مجاهدين ما را ياري رسانده نداشته و ندارد و از جانب ديګر ميان کشور افغانستان و کشور برادر سعودي هيچ نوع تماس جغرافيايي و ارضي که اسامه از آن عليه حاکميت دولتي و ارضي سعودي استفاده نمايد نمي باشد . اينکه چرا غربي ها و امريکايي ها به اين مسئله عادي و بي ارزش به اين پيمانه توجه خود را معطوف داشته و تبليغات وسيع را به اين ارتباط براه انداخته اند کاملاً محسوس و فهميده نشده ، اينقدر ګفته ميتوانيم که هدف اصلي از به راه انداختن اين تبليغات وسيع عليه موجوديت اسامه در افغانستان از يکطرف اين خواهد بود که آنها وجود موصوف را در افغانستان در کنار ساير بهانه ها، بهانه ګرفته تا چشم بپوشد از موجوديت يك دولت که همه شروط و مواصفات قانوني و بين المللي را غرض به رسميت شناختن دارا ميباشد .

و از جانب ديګر دول شرق ميانه را از تهديد موهوم اسامه بهراساند و موجوديت مستقيم و غير مستقيم خود را که روز به روز عليه آن انزجار و نفرت مردم آنجا زياد ميشود ضروري پنداشته و منطقي جلوه دهند طوري که به اين موضوع وزير اطلاعات و کلتور افغانستان در مصاحبه اخير خود با راديو بي بي سي اشاره کرده بودند .

ناګفته نبايد ګذاشت که روسها هم موجوديت طالبان را که يګانه عامل ثبات و استحکام وضع در کشور و منطقه ميباشند بهانه قرار داده : که ګويا اوشان سرحدات جنوبي کشور هاي آسياي ميانه را تهديد مينمايند که در حقيقت امر چنين نبوده بلکه وجود طالبان در سرحدات جنوبي کشور هاي اسياي ميانه در ثبات وضع و امنيت و جلوګيري از قاچاق مواد مخدر به کشور هاي متذکره کمك خواهد نمود .

بهتر خواهد بود که دول همسايه و کشور عربستان سعودي از همچون تبليغات غرض آلود غرب و روسيه تشويش به خود راه ندهند و نګذارند که دول استعماري همچون بهانه ها را دليل ګرفته اعمال نفوذ بيشتر در منطقه نمايند که اين امر يقيناً به نفع دول منطقه و جهان نخواهد بود و ثبات و استقرار وضع را در اين خطه، حساس به خطر جدي مواجه خواهد ساخت .

کشور هاي همسايه و کشور برادر عربستان سعودي ميتوانند اګر مشکل به اين ارتباط در ميان محسوس مينمايند از طريق مذاکره و مفاهمه با طرف افغاني مشکل خود را حل نمايند و دولت اسلامي آمادګي خواهد داشت که به رفع تشويش انها از طريق ممکن بپردازد .

شريعت اوونيزه ګډون کوونکي مني

که غواړي چي د هيواد له سياسي او نظامي حالاتو نه په خپل وخت خبر شي ، که غواړي چي د طالبانو د اسلامي تحريك له افکارو ، اهدافو او نظرياتو نه خبر شي که غواړي چي د سياسي ، اجتماعي، تربيتي او اخلاقي مضامينو په لوستلو مستفيد شي، که غواړي چي د جهادي او هنري ادب په ورمو مو ننده مانه شي نو د افغانستان د طالبانو د اسلامي تحريك د افکارو ، نظرياتو ، ارمانونو او اهدافو بوازيني او مرکزي ښانکره « شريعت اوونيزه » کي ګډون وکړي د اوونيزه د يو کال او شپږو مياشتو لپاره ګډون کوونکي مني «شريعت» سياسي او ښساسي د ګوربي ضرورت دي نو فرصت له لاسه مه ورکوي او په دي اوونيزه کي له هر څا وړاندي ګډون وکړي

د يو کال ګډون بيه ٤٨٠٠٠ ، د شپږ مياشتي ګډون بيه ٢٤٠٠٠ ، د محصلينو او زده کوونکو لپاره نيمه بيه د افغانستان بانك جاري حساب ١ ٤٠٣٨٥ ١

ادرس : کابل وزير اکبر خان پوليس سړك ٥٢ نمبر کور تيلفون : ٢١٣٨١

SHARIAT WEEKLY

Published by
Islamic Movement of Taliban Afghanistan
Chief Editor: Mawlavi Abdul Rahman Ahmad Hotaki.
Editor: Mula Asadullah Hanifi.
Add: House # 520, str#11,
Wazir Akbar Khan Minah,
Kabul Afghanistan, Tel #: 21381
Peshawar, Tel #: 844331-818157-815627
Fax: 816098 Peshawar
Account No: 71-8 Allied Bank of Pakistan LTD
Shopping Plaza KarKhano Peshawar

د ګډون بيه له هيواد نه بهر

ملك	شپږ مياشتي	کلني
پاکستان	RS200	RS400
دخليج هيوادونه	SR.150	SR.300
روپا او امريکا	US$75	US$150